Environment Strategy 2010-02-07

# CONSULATIONS

**دنړیوال بانک ګروپ دژوند چاپیریال تګلار**

**(ستراتیژي)**

**دمطالبو لنډیز**

**دژوند چاپیریال ریاست**
**ددوام لرونکي پرمختیا شبکه**
**۲۰۰۵م کال،داګست پنځمه**

**دنړیوال بانک ګروپ دژوند چاپیریال تګلاره (ستراتیژی)**
**دمطالبو لنډیز**

**لیک لړ(فهرست)**


الف_ شالید او پس منظر........................................................................................... ۱
ب_ هدفونه او مخاطبین ........................................................................................... ۳
ت_ دتګلارې له پاره چمتووالی : دغړیو دلومړیتوبونو او ګډو مسایلو دازریابی له پاره دوه لوری فعالیت.......................... ۴
ث_ داخلي پروسه،روشونه او معلوماتي (اطلاعاتي ) منابع........................................................................ ۸

ج_ پروسه او زماني موده.................................................................................۱۰
لومړۍ شمیره ضمیمه: دبانك دتاسیساتو سمسورول.....................................................۱۱
دویمه شمیره ضمیمه :دشالید اوپس منظر په اړه دوړاندیز شویو تحلیلي مطالعاتو لست..........................................۱۲
دریمه شمیره ضمیمه:دتګلارې (ستراتیژۍ) مؤقتي طرحه................................................................۱۴

**دنړیوال بانك ګروپ دژوند چاپیریال تګلاره (ستراتیژۍ)**
**دمطالبو لنډیز**

**الف_ شالید او پس منظر**

۱.**نړیوال بانك ګروپ دژوند چاپیریال دنوې تګلارې دچمتوکولو له پاره،چې هیله کیږي د ۲۰۱۰م کال دډسمبر په میاشت کې بشپړه شي، کار پیلوي.** دنړۍوال بانك ګروپ دیو صلاحیت لرونکي ارګان په توګه پو ره ژمن دی څو دا ډاډ ترلاسه کړي چې ددې اداري مرستې دغړیو هیوادونو له پاره ددوام لرونکو نتیجو لامل ګرځي . یعنې هغه پرمختیایي نتیجې چې له اقتصادي،ټولنیز او دژوند چاپیریال له اړخه پایښت لرونکې وي . دژوند دچاپیریال نوې تګلارې داصولو یو ه ټولګه او مجموعه مطرح کړي او دنړیوال بانك ګروپ په کاري حوزه کې دژوند چاپیریال پایښت ته دلاس رسۍ په منظور دفعالیتونو وړاندیز کوي . هغه عناصر چې باید دژوند دچاپیریال دنوې تګلارې او ستراتیژۍ په برابرولو په بهیر کې په پام کې ونیول شي، دمطالبو په دې لنډیز کې مطرح کیږي.

۲.دغه تګلاره به، چې دپایښت لرونکو ژمنو ترسره کول، ترسرلیك لاندې دنړیوال بانك ګروپ دژوند دچاپیریال له لومړۍ تګلارې څخه دترلاسه شویو تجربو پربنسټ ، چې دنړیوال بانك دژوند چاپیریال دغه تګلاره په ۲۰۰۱م کال برابره یا جوړه شوې وه، چم تو کړای شي . په هغې تګلارې کې داتوضیح شوې وو چې نړیوال بانك له غړیو هیوادونو سره څه ډول کار وکړي ،څو دهغو دژوند چاپیریال ننګونو او چیلنجونو ته رسیدنه وکړي او همدارنګه داډاډ ترلاسه کړي چې دهغې پروژې او پروګرامونه دژوند دچاپیریال ساتنې اصول په ځان کې ولري.

**۳.په ۲۰۰۸م کال کې دژوند دچاپیریال په اړه دنړیوال بانك ګروپ همکاري بشپړه اغیزناکه ارزیابي شوې وه، خو دهغې داغیزو دزیاتوالي له اړتیا سره ([1])**. دارزیابۍ خپلواکې ډلې په هغې ارزیابۍ کې چې ۲۰۰۸م کال یې دژوند دچاپیریال ساتنې په برخه کې دنړیوال بانك دفعالیتونو دارزیاېی له پاره ترسره کړه، څرګنده کړه چې دنړیوال بانك ګروپ دژوند دچاپیریال په برخه کې دیوې مسوولې ادارې په توګه، له ۱۹۹۰م کال څخه راپدې خوا پرمختګونه لرلي دي.

له دې سره سره دارزیابۍ خپلواکې ډلې دژوند چاپیریال مسایلو ته درسیدنې پورې اړوند داخلي او بهرني خنډونه او موانع هم دهیوادونو په کچه دنړیوال بانك دګروپ په ډیرو پروګرامونو کې مشخص کړي دي. دارزیابۍ خپلواکې ډلې توصیه او لارښوونه کړې ده، چې دژوند دچاپیریال په برخه کې دخپلو فعالیتونو داغیزمنتیا له پاره باید دنړیوال بانك ګروپ دالاندې تدبیرونه رامینځته کړي :(۱) دنړیوا ل ګروپ ترکار لاندې ساحو کې دې دژوند دچاپیریال ساتنې مسایلو ته ډیره پاملرنه وکړي. (۲)څو سکټوري پراخه فعالیتونه دې ترلاس لاندې ونیسي او دکار کوونکو کاري وړتیا دې پیاوړې کړي.(۳) فعالیتونه او نتیجې دې په ډیره اغیزمنه توګه ارزیابي او سنجش کړي او (۴) دنړیوا ل بانك ،نړیوالې مالي ادارې او دڅو اړخیزه پانګې اچونې دتضمین ټولنې (انجمن) ترمینځ دې دکارونو همغږي او مطابقت او همدارنګه دې دنړیوال بانك ګروپ او بهرنیو همکارانو ترمینځ همغږۍ او هماهنګۍ ته ښه والی ورکړي . په دې برخه کې ټینګاروشو چې تګلاره دې دنړیوال بانك دګروپ په سطحه نوې شي او په هغې کې دې دڅو اړخیزه پانګې اچونې دتضمین ټولنه(انجمن) او نړیوا ل مالي مؤسسه دنړیوال بانك دفعال همکار په توګه په پام کې ونیول شي.

**۴.موږ دنړۍ په کچه، په مهمو او حساسو شیبو کې واقع یو، په داسې یوه شیبه کې چې دژوند دچاپیریال ساتنه او پایښت دپرمختیا مرکزیت تشکیل کړي .** له ۲۰۰۱م کال څخه راپدې خوا دژوند دچاپیریال بیروني حالت دکتنې وړ بدلون موندلی دی. دنړیوا ل بانك ګروپ داواقعیت په بشپړه توګه منلی دی چې داقلیم بدلون دغریو هیوادونو دپرمختیا په ډګر کې په لاسته‌راوړنو کلکې منفي اغیزې لرلي دي او دا چې داقلیم بدلون به دصنعت ، پانګه اچو ونکو او مالي ادارو له پاره بالقوه کلك خطروي.

سربیره پردې دپرمختیاېپه حال کې هیوادونو کې ښارمیشته‌کیدنې او ګڼه ګوڼې زیاتې اغیزې رامینځته کړي دي. په اوس وخت کې دنړۍ له نیمایي نه زیات نفوس په ښارونو کې ژوند کوي او په سلوکې ۹۰ښاري وده دپرمختیا په حال کې هیوادونو کې رامینځته کیږي. دزریزې دپرمختیایي هدفونو په ډګر کې پرمختګ له کلك ګواښ سره مخامخ دی، چې داګواښ او تهدید یوه برخه دوروستیو یو لړ مالي، غدايي او نفتي بحرانونو او څه برخه یې دحکومت دارۍ او اداري سیستماتیکو نیمګړتیاوو ته په رسیدنه کې له ناکامۍ څخه سرچینه اخلي .له بلې خوا بیلو بیلو اړوندو دخیلو خواوو او چارواکو په اوس وخت کې دژوند او دټولنیز چاپیریال دساتنې او پایښت اهمیت او مسوولیت مننه دیو دوام لرونکې پرمختیا داساس او بنسټ په توګه درك کړی دی . دمثال په توګه : دژوند دچاپیریال ساتنې موضوع زیاتره دنادولتي اوخصوصي ادارو داړوندو او دخپلو خواوو او چارواکو په واسطه دډله ییزو او داوطلبانه یادخپلې خوښې کړنو له لارې ، مخکې له دې چې دژوند دچاپیریال دحالت دښه والي له پاره مقررات او یا اغیزناك پروګرامونه ترلاس لاندې نیول شوي وي، په پام کې نیول کیږي . داکار ددې څرګندوی دی،چې دژوند دچاپیریال دساتنې اصول په پراخه بڼه په پام کې نیول کیږي. په همدې اساس دژوند دچاپیریال حکومتداري، له دې څخه زیات یوازې دعامه سکټور مسوولیت نه دی او همدارنګه نشو کولی چې هغه یوازې له عنعنوي لارو چارو او مقرراتو څخه په استفاده ترلاسه کړو.

**۵.داقلیم بدلون دنړیوال بانك ګروپ په ډیرو غریو هیوادونو کې دپرمختګ په وړاندې سترخنډ ګرځیدلی دی .**

هماغسې چې داقلیم دبدلون په اړه اندیښنه زیاتوالی مومي،هیوادونه خپل منابع داقلیم دبدلونونو دموجودو اغیزود له منځه وړولو او همدارنګه له راتلونکو اغیزو څخه دمخنیوي له پاره متمرکز کړي دي. داقلیم دبدلونونو ناوړه اغیزو ته درسیدنې له پا ره دتمویلوونکو دمرستو زیاتوالی داقلیم دبدلون مسایلو ته دپاملرنې دزیاتوالي سبب ګر ځیدلی دی . د۲۰۰۸م کال په اکتوبرکې دنړیوال بانك ګروپ دستراتیژیکې پرمختیا او داقلیم دبدلون پروګرام تر لاس لاندې ونیو، چې اوس نړیوال بانك دهغې دلارښوونو په اساس داقلیم دحالت دښه والي او کاربن کمښت له پرمختیا څخه دملاتړ په لار کې کار کوي. دنړیوال بانك دپرمختیا راتلونکې ګرزارش به داقلیم په بدلون باندې تمرکز وکړي. دژوند دچاپیریال دتګلارې (ستراتیژۍ) دبرابرولو له پروسې سره په عین وخت کې ، نړیوال بانك او سمهال دانرژۍ دنوې تګلارې په طرحه بندې هم بوخت دي. داقلیم بدلون ته په پاملرنه داسې پوښتنې مطرح کوي چې باید هغو ته دژوند دچاپیر یال په تګلاره کې ځواب ورکړی: داقلیم بدلون ته په پاملرنه دژوند دچاپیریال به نوې تګلاره کې دژوند چاپیریال ترکومې اندازې په مرکزیت کې واقع وي؟ آیا دهغو کړنو ، چې داقلیم بدلون ته درسیدنې له پاره باید ترسره شي او دژوند دچاپیریال دنورو دمحلي او سیمه ییزولومړیتوبونو ترمینځ کوم تعادل او سمون او جوړښت شتون لري؟دنړیوال بانك

---

[1] – نړیوال بانك (۲۰۰۸) دژوند دچاپیریال ساتنه. دنړیوال بانك ګروپ دمرستو دارزیابۍ ګزارش واشنګټن ډي سي فایل په دې لاندې ویب پاڼه کې دلاس رسۍ وړ دی: http://go.worldbank .orgBD&MP>T5 Bo

ګروپ تګلاره څه ډول کولی شي داقلیم له بدلون سره شریکې ګټې اکثر حد او اندازې ته ورسوي؟ نړیوال بانک باید څه ډول دژوند دچاپیریال ځانګړو لومړیتوبونو ته درسیدنې له پاره له هیوادونو سره دمرست ې او عامو نړیوال ګټو ، لکه داقلیم بدلون ترمینځ پخپل نقش کې تعادل وساتي؟

**۶.دمخکینی دتګلارې له ترتیب څخه تراوسه ، ښاري میشته کیدنه یو له هغو سترو عواملوڅخه و چې دنړۍ طبیعي حالت یې زیانمن او اغیزمن کړی دی.** دالومړی ځل دی چې دکلیو په پرتله په ښارونو کې زیات شمیر و ګړي ژوند کوي. داکار دژوند دچاپیریال پرمنابعو باندې دفشار دزیاتوالی لامل ګرځیدلی دی، خ و له بلې خوا څخه همدا مسئله دژوند دچاپیریال له اصولو او لارو چارو سره سم زیات شمیر خلکو ته دخدمتونو دوړاندې کولو دفرصتونو درامینځته کولو سبب شوې ده. دنړیوال بانک دښاري سکټور تګلاره کوي، چې ه‌م‌دا اوس ترکار لاندې ده او دژوند دچاپیریال دمخکینی تګلارې له ارکانو سره سمون لري، دښارونو دپراختیا اودژوند دکیفیت په ښه والي تمرکز ك وي. په دې تګلاره کې به دصنعتي کولو دښاري پراختیا او کلیوالو سیمو څخه ښارونو دکډوالی (مهاجرت) ترمینځ اړیکې هم په پام کې نیول شوي دي.

**۷.لازمه ده چې په تګلاره کې دلنډ مهاله پرمختیایي اندیښنو او دژوند دچاپیریال داوږده مهاله پایښت ترمینځ سمون او تعادل په غور وڅیړل شي.** دزریزې دبیلابیلو پرمختیایي هدفونو او دژوند دچاپیریال دساتنې ترمینځ ډیرې اړیکې شته دي . دمثال په توګه دخوارځواکی (سؤتغذیي) له نیماېي څخه زیاتې پیښې د روغتیا ساتنې له ټیټ کیفیت څخه سرچینه اخلي. دودې او پرمختیا په حال کې هیو ادونو کې دژوند دچاپیریال له عواملو څخه رامینځته شویو ناروغیو اندازه دپرمخللیو هیوادونو په پرتله ۱۵ځله زیاته ده. ددغو ناروغیو په سلوکې شاوخوا ۴۰اندازه له پنځو کلونو څخه دراښکته عمر لرونکو ماشومانو ته متوجه وي، چې هغوی ډېوازې دنړۍ دنفوس په سلو کې ۱۰برخه جوړوي . داقلیم بدلون داحالت ډیر پیچلی کوي. دنړۍ تراوسنیو موجودو شرایطو لاندې ، دنړیوال بانک ګروپ په ډیرو هیوادونو کې پرمختیا په یوې چټکې او ژورې مبارزې او هلو ځلو تبدیله شوې ده.
نظر هغو وړاندوینو (پیش بینیو) ته چې بیا کتنه ورته شوې ده ، اټکل کیږي چې دبحرانونو له امله ل ږه او کمزورې اقتصادي وده ، نشي کولی چې په ۲۰۰۹م کال کې هغه ۵۳میلیونه تنه وګړي وژغوري ، چې دسخت غریب او بیوزلی ترشرایطو لاندې ژوند کوي . او له ۲۰۰۰۰۰څخه تر ۴۰۰۰۰۰نوي زیږیدلی ماشومان به خپل ژوند له لاسه ورکړي. غذایي بحرانونه، چې په بیو او نرخونو کې دزیاتوالي او بې ثباتی لامل شوی دی، دزریزې دپرمختیا یې هدفونو له اوږد مهاله اجنداء سره نږدې اړیکې لري . له ۹۰۰میلیونو څخه زیاتو وګړو ، ان دا چې دموجودو مالي بحرانونو))څخه دمخه هم په لوږه کې ژوند کاوه. دغه شمیر په اوس وخت کې ۹۶۳میلیونه تنو ته رسیږي . دغه ټولې پرمختیایي نیمګړتیاوې دژوند دچاپیریال په برخه کې له موجودو نیمګړتیاوو سره ناوړه اړیکې لري. دې مسئلې ته په پاملرنه چې تر ۲۰۳۰م کال پورې به خوړو (غذا) ته غوښتنه په سلوکې ۵۰او دځښلو اوبو ته په سلوکې ۳۰زیاتوالی ومومي او دځمکې دکرې نفوس به ۸،۳ میلیاردوتنو ته ورسیږي، دژوند په چاپیریال پورې اړوندو ستونزو او اندیښنو ته نه پاملرنه د زریزې پرمختیایي هدفونو ته رسیدنه له ګواښ او خطر سره مخامخ کوي.

**۸.دپرمختیا په حال کې هیوادونو ته عمومي ګټو پورې اړوند مسایل دهغوې سیمه ییزو مشکلاتو لکه دغربت کمښت، اقتصادي و او دزیربناوو پرمختیا په پرتله له لږ لومړیتوب څخه برخمن دي .** د۲۰۰۸م کال دنړیوالي نظر سنجونې پراساس دژوند چاپیریال په هغو پنځو سترو ننګونو او چیلنجونو کې، چې دودې او پرمختیا په حال کې هیوادونو فکر کاوه له هغو سره مخامخ دي ، نه وشامل شوی، پرځای یې دغربت او فقر کمښت ، اقتصادي وده او دزیربناوو پرمختیا سترې ننګونې او چیلنجونه ښودل شوي وو. له دغه نظر سنجونې څخه ترلاسه شوې نتیجه له هغه ځواب سره په مغایرت کې ده چې له صنعتي هیوادونو څخه ترلاسه شو ه، یعنې په صنعتي هیوادونو کې دژوند چاپیریال او په هغه پسې اقتصادي وده ستره ننګونه او چیلنج ګڼل کیده . دژوند له چاپیریال څخه دصنعتي هیوادونو پوهه اومعلومات کولی شو په هغه فعالیت کې ووینو چې په هغو هیوادونو کې ډیر و سوداګریزو (تجارتي) شرکتونو دخپلو اصلي هدفونو دیوې برخې په توګه دژوند دچاپیریال ساتنه شاملول ترلاس لاندې نیولی دی . همدارنګه دغه پوهه او خبرتیا کولی شو له هغو مبالغو او پانګو څخه هم، چې دژوند او ټولنیز چاپیریال دپانګه اچوونکو له خوا په دغو برخو کې پانګه اچول شوې ده، ووینو. دغه مالي مبلغونه او پانګې دتمویلوونکو زنځیرونو او دودې او پرمختیا په حال کې هیوادونو دتابع شرکتونو له لارې او څه برخې یې په نویو رامینځته شویو مارك یټونو کې لګښت مومي . دغه موضوع دعامه ګټو دمسایلو او سیمه ییزو پرمختیایي اړتیاوو ترمینځ دښواریکو او دژوند دچاپیریال ساتنې په اړه دخپلو او اړوند خواوو دپراخو همکاریو زیاتوالی ته داړتیا څرګندوی دی.

**ب _ هدفونه او محاطبین**
**۹.دمطالبو په دې لنډیز کې ر دوروستی تګلارې دترتیب او برابرولو بهیر او پروسه بیانیږي .** دمطالبو په لنډیز کې دپروسې اړوند هغه او واقعي فعالیتونه چې دنړیوال بانک ګروپ یې دتګلارې په ترتیب او برابرولو کې ترسره کوي، تشریح شوي دي او دهغو مس ایلو دترتیب اوتنظیم دمرستې په منظور به یوښتنې ، چې تګلاره او ستراتیژي هغه

وړاندې کوي، مطرح شي. دتګلارې وروسې هدفونه دهغو نتيجو له ترکيب څخه، چې دبانك دداخلي او بهرنيو دخيلو خواوو سره له مشورې څخه لاسته راځي او دتحليلي کارونو لاسته راوړني، چې دتګلارې په تهيه او ترتيب کې به ترسره شي، ترتيب او دنړيوال بانك دادارو او مرکزنو په رسمي موډولونو به ورزيات کړای شي.

**۱۰.دتګلارې دترتيب او برابرولو دپروسې دوه هدفونه ددې لاندې مواردو له پيژندلو څخه عبارت دي :**
**الف:** هغه کليدي ساحې چې نړيوال بانك ګروپ په هغو کې دخيليږې اودځپلو داخلي او بهرنيو غړيو مرسته اوملاتړ کوي، ترڅو په دې وسيله دژوند دچاپيريال لومړيتوبونو ته په ډيره اغيزناکه توګه رسيدنه وشي او ديو پاينت لرونکی دژوند چاپيريال او دهغه دزياتې ساتنې په لور حرکت وکړي.
ب_دژوند دچاپيريال ساتنې له پاره دنړيوال بانك دفعاليتونو د تعقيبولو په منظور ديره غوره لاره او روش، دغوره نتيجو ديو چوکاټ له لارې ، پوهه او دظرفيت لوړتيا، له دولتونو سره همکارې، خصوصي سکټور، مالي سکټور، دپرمختيايي برخې او مدني ټولنې همکاران له بانك څخه دباندې او دبانك دننه له سکټور اوسيمه ييزو همکارانو سره، دژوند دچاپيريال له لحاظ د دوام لرونکې پرمختيا په برخه کې دنورو دخيلو او اړوندو خواوو دمرستو لوړول او هڅونه، چې په دې کار کې به دځپلو تاسيساتو دسمسورولو په منظور دنړيوال بانك دګروپ دفعاليتونه پراخول هم شامل وي.

**۱۱.دکورنيو (داخلي) او بهرنيو غړيو له پاره د ژوند دچاپيريال تګلاره په پام کې نيول شوې ده** .تګلاره به له بشپړيدو څخه وروسته دنړيوال بانك ګروپ دبوخې او کار کوونکو له خوا تطبيق او دنړيوال بانك ګروپ دريسانو دبورډ په واسطه به يې څارنه وشي.
نوموړې تګلاره به دپرمختيا په حال کې غړيو هيوادونو، پرمختيايي مؤسسو اوشريکانو ، مدني ټولنې، دخصوصي سکټور او صنعتي شرکتونو استازيو (نمايندګانو)نادولتي مؤسسو او همدارنګه د نړيوال بانك ګروپ دمديريت دبرخې دکارکوونکو له خوا برابره او ترتيب شي.

**ت:دتګلارې له پاره چمتووالی : دګډومسايلو اوغړيودلومړيتوبونو دارزيابۍ له پاره دوه لوری فعاليت**
**۱۲.د۲۰۰۱م کال تګلارې دژوند له چاپيريال څخه دنړيوال بانك دملاتړ له پاره يو لازم فکري چوکاټ رامينځته کړ .**
د۲۰۰۱م کال تګلارې دنړيوال بانك له ماموريت سره موازې له فقراو غربت سره په مبارزه کې دغربت اودژوند چاپيريال ترمينځ اړيکې څرګندې کړی او دژوند دچاپيريال له ناوړه حالت څخه دغريبو او بيوزلو وګړيان مننه او له اقتصادې ودې سره يې دژوند دچاپيريال اړيکو ته دخلکو پاملرنه واړوله. دتګلارې درې ستر او مهم هدفونه عبارت وو له:(۱) دژوند دکيفيت ښه والی (۲) دودې دکيفيت ښه والی او (۳) دسيمې او نړی دشنو سيمو له کيفيت څخه ساتنه.

**۱۳.مخ په وړاندې حرکت، دنوې تګلارې ترتيب او برابرول به ديو دوه تګلارې فعاليت له لارې ترسره شي** . يوه فرضيه ، چې دهغې له مخې په نوی تګلاره کار پيل کړ ي داده چې د ۲۰۰۱م کال دتګلارې ستراتيژيك هدفونه نن ورځ هم دباور او اعتبار وړ دي. دې مطلب ته په پاملرنه به نوې تګلاره له يوې دوه تګلورې لارې او روش څخه په استفاده طراحې شي. ددې فعاليت په لومړی لورې کې دا هڅه او هلې ځلې کيږې چې دګډونوالو کورنيو (داخلي) اوبهرنيو غړيو غوښتنې ارزيابې کيږې، او داهڅه کيږې چې دافرضيه چې دمخکينی تګلارې درج شوې هدفونه پکې ه م ترلسو راتلونکو کلونو پورې ، روښ پيشبينې شوې ننګونو او چيلنجونو ته په پاملرنه ، پخپل اعتبار او باور پاتې وي، تثبيت شي . زموږ دغړيو او همکارانو دنظريو له راټولولو څخه موخه او هدف دادی چې ترڅو هغه کليدي ساحې، چې په هغو کې دنړيوال بانك ګروپ دهمکاری غوښتنه دخپل ژوند دچاپيريال دساتنې او پاينت په منظور او په دې ساحو کې يې دنتيجو په اړه دنړيوال بانك ګروپ له مرستو څخه دغوښتنو له واضح کولو له پاره لرې، وپيژندل شي. په دې لار او طريقه تصديق کيږې چې دژوند دچاپيريال مثبتې نتيجې او دژوند چاپيريال ساتنه او پاينت په بيلابيلو سکټورونو کې دپراخو پروګرامونو دمجموعې درامينځته کولو له لارې تعقيب او ترلاسه شي . دفعاليت په دويم لورې کې به دژوند دچاپيريال ساتنې او پاينت په اړه دنړيوال بانك دکړنو او اجرااتو مشترك عناصر تجزيه او تحليل کيږې او په دې برخوکې به دنړيوال بانك ګروپ پراخه هدفونه وپيژندل او بېښنه شي. په دواړو تګلورو کې به دنقش ، کارې موډل او دژوند دچاپيريال ساتنې او پاينت له پاره دفعاليت ديو لازم او اغيزناك چوکاټ دوړاندې کولو داجنداء پورې اړوندې اصلې پوښتنې طرحه شي. دغه دوه تګلوری فعاليت به دتګلارې په اړه دمشورو په پروسه کې هم وکارول شي او دنتيجو په چوکاټ کې به، چې دتګلارې دطراحی په بهير کې تهيه او برابريږې، هم انعکاس ومومي.

**۱.تګلوري: دژوند دچاپيريال ساتنې له پاره دلومړيتوبونو په ټاکنه کې دداخلي او بهرنيو غړيو د غوښتنو ارزيابي.**
**۱۴. په دې تګلورې کې هڅه کيږې چې دژوند دچاپيريال دپاينت په اړه د داخلي او بهرنيو غړيو په مرسته دنړيوال بانك دګروپ دهلو ځلو او هڅو ماهيت او اندازه وټاکل شي.** ددې پروسې په ترڅ کې دسيمو، هيوادو نو او سکټورونو

په کچه دبیلابیلو اړوندو خواوو دژوند دچاپیریال لومړیتوبونه ارزیابي کیږي. دژوند دچاپیریال دسیمه ییزو همکارانو پواسطه دارزیابی پروسه به، چې په هرهیواد کې دمستقرو ټیمونو او SDN له نورو واحدونو سره کارکوي، ارزیابي شي. سیمه ییز ټیمونه به ددې مشورو پروسه او بهیر له اړوند خو اوو ، له هغې جملې څخه حکومتونه، خصوصي سکټوري، مدني ټولنه، پرمختیایي همکارانو او همدارنګه له داخلي همکارانو سره په سکتور څانګو او دیپارتمنتونو کې پرمخ بوځي.

**۱۵.هڅه کیږي په تګلاره کې دې لاندې پوښتنو ته ځواب وویل شي:**

- آیا دژوند دکیفیت،دودې دکیفیت ښه والی او دسیمې او نړۍ دښوونځ ساحو ساتنې ته دپاملرنې دوام اوس هم مناسب دي؟
- په هر هیواد ، سیمه، سکتور او یا صنعت کې دژو ند دچاپیریال په لحاظ دوام لرونکې پرمختیا ته په لاس رسي کې فرصتونه، ننګوني او چیلنجونه کوم دي؟ له هغه بالقوه نقش څخه ، چې کیدای شي نړیوال بانک وکړای شي هغه دغو فرصتونو او ننګونو درسیدلو په منظور دودې او پرمختیا په حال کې هیوادونو څخه دملاتړ له پاره یې ترسره کړي، څه هیلې او توقعات لرئ؟
- په یو هیواد کې مشخصو لومړیتوبونو ته درسیدنې دنقش او دنړۍ دعامه ګټو دمسایلو ترمینځ باید څه تعادل شتون ولري؟ په دغه تګلاره کې باید څه ډول ددغو نړیوالو اندیښنو ، لکه دایکوسیستم ساتنه او سیمه ییزو اندیښنو، لکه دغربت کمولو،اقتصادي ودې، او دزیربنا وو داسې وده چې دژون د دچاپیریال له نظره پایښت لرونکې وي، د دواړو ترمینځ تعادل برقرار اوخوندي وساتل شي.
- کوم کلیدي عناصر شته دی چې له هغو څخه په استفاده کولی شو غیر دولتي اړونده خواوې په ښه توګه سره رایوځای او خصوصي سکټور ته ددې وخت اومجال ورکړو چې دژوند دچاپیریال په برخه کې خپ ل فعالیتونه په ښه توګه تعقیب کړي او خپلو هدفونو ته ورسیږي؟
- آیا دالازمه ده چې په تګلاره کې دسکتور ونو په ساحو کې دژوند دچاپیریال پایښت دسنجش په منظور دساتنې له معیارونو سره په سمون کې یوه سیستماتیکه لاره او روش درج شي؟ آیا دغسې روش اولاره باید یوازې په ځینو سکټورونو، لکه ښاري سکټور، کرنې او زیربناوو کې دتجربو دترلاسه کولو پاره تطبیق شي یا هغه په ټولو سکتورونو باندې په یو ډول تطبیق شي؟
- دژوند دچاپیریال پر اوږدمهاله ساتنه او پایښت باید په تګلاره کې څه ډول تاکید ا و ټینګار وشي؟ دلنډمهالی او اوږد مهالي پرمختیا ترمینځ باالقوه احتمالي مطابقتونو او دژونددچاپیریال ساتنې ته باید څه ډول رسیدنه وشي؟
- څه ډول باید په تګلاره کې دهغو مرستو ترمینځ ، چې نړیوال بانک ګروپ کولی شي په مستقیمه توګه یې خپلو غړیو هیوادونو ته دخپلو فعالیتونو له لارې دژون د دچاپیریال له مخې دپایښت لرونکې پرمختیا په منظور ترسره کړي او ددې پروژې دنورو دخپلو او اړوندو خواوو دمرستو دلوړولو او چټکولو ترمینځ تعادل وساتي؟

**۲ تګلوري: دژوند په چاپیریال پوري اړوندو نتیجو په وړاندې کولو کې نړیوال بانک ګروپ دکړنو او فعالیتونو دښه کولو په منظور دګډولومړیتوبونو ارزیابي.**

**۱۶. ۲تګلورې دژوند دچاپیریال په هکله دنړیوال بانک ګروپ دکړنو او فعالیتونو مشترك عناصر تجزیه او تحلیلوي** او په دې برخه کې دنړیوال بانک ستړې موخې (هدفونه) په ګوته کوي. په ځانګړې توګه په دې تګلورې کې به دلومړیتوب لرونکو ځینو ساحو باندې ، چې لاندې بیان شوي دی، تمرکز شي.

**۱۷.دژوند دچاپیریال دساتنې او پایښت له بهیر څخه مخ په وړاندې حرکت** ، دژوند دچاپیریال پایښت ته لاس رسي یوه دوام لرونکې پروسه ده، چې دهغې له مخې غواړو دتګلارې دزماني جدول په بهیر کې مخ په وړاندې حرکت وکړو . دنړیوال بانك په ګروپ کې، دهغې ستر پړاوونه، په ۱۹۸۰م کال د لسیزې په وروستیو کې دساتندویه معیارونو تصویب دبانك دپالیسۍ دسند په توګه شامل دي، چې دا دهغو فعالیتونو په بهیر کې ، چې دبانك له خوا تمویلیدل، داحتیاطي یا ((بی ضرره) اصولو دتطبیق او پلې کولوله پاره وو.وروسته په ۲۰۰۱م کال دنړیوال بانك دژوند دچاپیریال په لومړۍ تګلاره کې ، دبانك دسکتورو په پروګرامونو کې دژوند دچاپیریال د ملاحظاتو ورځای کولو ته په پاملرنه باندې تاکید او ټینګار وشو . په نوې تګلاره کې په پام کې دي چې په دې تګلورې کې په پروګرامونو کې دساتندویه معیارونو او دژوند دچاپیریال دموضوع له ورځای کولو څخه برسیره نور هم مخ په وړاندې حرکت وکړي، ترڅو دژوند دچاپیریال ساتنه او پایښت دنړیوال بانك ګروپ په ټولو کار لاندې ساحو کې ښه والی ومومي. دژوند د چاپیریال دمسایلو دانسجام په برخه کې دترلاسه شویو بریالیتوبونو په دوام وړاندیز شوي تګلاره دژوند دچاپیریال پایښت ته دلاس رسی له پاره عملیاتي پروګرام، چې په پام کې دی د ۱۰کلونو په موده کې تطبیق شي، یو لړ موخې او هدفونه لري، چې په هغو هدفونو کې دالاندې مواردشامل دي :

(۱) دنتيجو يو چوکاټ (۲) ديوهي او ظرفيت لوړاوی، هم په داخلي او هم په بهرنی کچه او بنه، له هغې جملې څخه په ټولو سکټورونو کې دژوند دچاپيريال ساتنې په نسبت دمسووليت داحساس پیاوړتیا .(۳) له سکټوري اوسيمه ييزو همکارانو سره نږدې همکاري، له هغې جملې څخه دسکټورونو له ستراتيژيو او تګلارو سره داړيکو تامين، لکه داقليم بدلون او انرژي او (۴) د دوام لرونکی پرمختيا په برخه کې داړوندو او دخيلو خواو دمرستو داندازې لوړول. دژوند دچاپيريال دپايښت دموضوع په اړه دترلاسه شويو نتيجو دسنجش له پاره به معيارونه دسکټورو او سيمه ييزو دفترونو په موافقه وټاکل شي. دپاليسۍ دمعيارونو له تطبيق څخه ترلاسه شوې تجربه او دژوند او ټولنيز چاپيريال دپايښت په اړه دنړيوالي مالي مؤسسې فعاليتونه او کړنې دخپل کار په برخه کې بانک ډير ښه درسونه وړاندې کوي . په همدې ډول به د ۲۰۰۶م کال دجون په مياشت کې په يوې دوام لرونکې پرمختيايي شبکه کې دژوند دچاپيريال کليوالي او ټولنيزې پرمختيا له واحدونو سره دزيربناوو دواحدونو له يو ځای کيدو څخه ترلاسه شوې تجربې هم ګټورې واقع شي.

۱۸. **دغړيو ترمينځ دتوپيرونو منل**
دکاري حوزې (پورتفوليو ) دارزيابی په وخت کې به په تګلاره کې دنړيوال بانک ګروپ له پاره دژوند د چاپيريال يو دوام لرونکی چوکاټ تشريح شي، چې نوموړی چوکاټ به دهېوادونو پرمالکيت او غوښتنو ولاړوي او دهر هيواد اوسيمې په لومړيتوبونو کې توپيرونه به دبيلابيلو معيارونو له مخې په پام کې ونيسي ، چې په هغو معيارونو کې دالاندې موارد شامل دي: دهر تن ناخالص داخلي توليد (LMIC,L,C)، ټولنيز حالت (مثلاً دجګړې حالت او يا له جګړې وروسته حالت ) سيمه ييز حالت (مثلاً اروپايي اتحاديي کې ګډون ) دطبيعي منابعوشتون (مثلاً له ځنګلونو او تيلو (نفتو) پياوړی اقتصاد) او دهغې دصنعتي والی اندازه. دمثال په توګه يو هيواد په لږو عايداتو او ډيرنفوس سره، چې دهغوی اقتصادي ژوند په طبيع ي منابعو پورې کلک تړلی دی او يا دژوند د چاپيريال له ستونزو څخه رامنځته شويو ناروغيو او دماشومانو له زياتې اندازې مړينې څخه رنځ وړي، په هو ا کې دلږې اندازې کاربن لرونکی وي او ښايي بل لومړيتوب هم ولري، چې هغه لومړيتوب يې ښايي دبل ډير صنعتي او پرمختيا په حال کې هيواد له لومړيتوبونو سره توپيرولري.

**۱۹.دحکومتدارۍ او ژوند دچاپيريال دادارو نقش** دژوند دچاپيريال په تګلاره کې به دې موضوع ته کتنه وشي ، چې دنړيوال بانک ګروپ څه ډول کولی شي چې دژوند دچاپيريال دمهمو ادارو او دحکومتدارۍ د ميکانيزمونو په پياوړتيا کې، چې په دوام لرونکي پرمختيا کې اساسي ونډه لري، مرسته وکړي. په نوموړې تګلاره کې په دواړو برخو، يعنې په رسمي مقرراتو او اصولو، لکه پاليسی ، قوانين ، صنعتي مقررات او معيارونه او دهغو تطبيق او غير رسمي اصول او مقررات ، له هغې جملې څخه به په فرهنګي او سلوکي مسايلو باندې به تمرکز وشي .
دژوند چاپيريال ساتنې او پايښت ته لاس رسي په دې پورې تړلی دی چې حکومتونه ، خصوصي سکټور او مدني ټولنه په کومې اغيزمنتيا سره کولی شي چې زماني تعادل ارزيابي کړي، دژوند دچاپيريال لګښتونه او عوايد وڅيړي اوددې تجزيې او تحليل نتيجې دخپل تصميم نيونې په چوکاټ کې ورځای کړي. په دې تګلاره کې به په تصميم نيولو کې دزيانمن شويو کمزور و غړيو شريکول، اطلاعاتو ته دلاس رسی تامين او دبيلابيلو دخيلو اړوند اړخونو ترمينځ حساب ورکول ، اغيزناک تطبيق، دشخړو دحل ميکانيزمونه او عدالت ته لاس رسي به ترڅېړنې اوکتنې لاندې ونيول شي. نړيوال بانک ګروپ ، عامه سکټور، خصوصي سکټور او مدني ټولنه، چې په هريو مخ په ودې او پرمختلې هيواد کې يې ديو لړ پور او وړيا مرستو له لارې يې دتجزيې او تحليل او دژوند دچاپيريال دحکومتدارۍ دظرفيت دلوړاوي په برخو کې مرسته کړې ده.
په دې تګلاره کې داتجربه او همدارنګه له نورو پروګرامونو او پروسو څخه ترلاسه شوې تجربې تحليل او تجزيه کيږي، ترڅو معلومه شي چې نړيوال بانک څه ډول کولی شي چې دغړيو هيوادونو له پاره دژوند دچاپيريال دحکومتدارۍ او پروسو دپياوړتيا په لاره کې ډير ګټور همکارو اوسي. البته دې چارې ته په پاملرنه ، چې هيوادونه دادارو او موجودو سيستمونو له مخې چې په هغو کې د ژوند دچاپيريال حکومتداري دپيلامې په بيلابيلو پړاوونو کې دي . يوه له هغو مشخصو ساحو څخه چې تګلاره به پرهغې تمرکز ولري ، داده چې حکومتونه، صنعتي او مالي اداري او مدني ټولنې څه د ول کولی شي يو له بله په زياتې همکارۍ سره دژوند دچاپيريال ککړتيا له مينځه يوسي او دسالمې ودې له پاره يوه غوره رقابتي فضاء رامينځته کړي.

**۲۰.عملياتي پاليسی، ساتندويه تدبيرونه ، دکړنو او فعاليتونو معيارونه او دهيوادونو سيستمونه** . په هغو پروژو کې چې دبانک له خوا تمويليږي. داحتياطي او يا بې ضرره اصولو دتطبيق په اړه،دبانک دکليدي پاليسيو ساتندويه تدبيرونه تشکيلوي . په اوس وخت کې ددغه ساتندويه تدبيرونو دتطبيق لاره دارزيابی ديو خپلواک کميسيون له خوا ترکتنې او څېړنې لاندې ده چې د ۲۰۰۹م کال ددسمبر تر مياشتې پورې په بشپ ړه شي، په تګلاره کې به هغه درسونه، چې له دې کتنې او بررسی څخه اخيستل کيږي، په پام کې نيول کيږي ، دساتندويه تدبيرونو په هکله بحث دا فرصت په لاس راکوي څو پرهغو کړنو چې دنړيوالی مالي مؤسسې او دځواړ څېړه پانګه اچونې دتضمين ټولنې (انجمن) په واسطه دپايښت او دوام په اړه ترسره شوي دي، دنظر تبادله وشي او له

هغو څه زده کړو . د۲۰۰۶م کا ل په اپریل کې نړیوالې مالي مؤسسې دژونداوټولنیز چاپیریال دپایښت په اړه دخپلوکړنو دمعیارونو پالیسي تصویب کړه، چې د۲۰۰۷م کال په اکتوبر کې دخواړخیزه پانګې اچونې دتضمین ټولنې دغه پالیسي اقتبا س کړه او تراجراء لاندې یې ونیوله . همدا اوس نړیواله مالي مؤسسه دخپلو کړ نو او فعالیتونو دمعیارونو دپالیسۍ له تطبیق څخه دترلاسه شویو تجربو په کتنه او څېړنه بوخته ده ، چې ددې څېړنې نتیجې به دژوند دچاپیریال په تګلاره کې انعکاس ومومي. دمرستو په اړه دپاریس اعلامیې (۲۰۰۵م کال مارچ ) نړیوال بانك او نورې پرمختیایي ادارې په دې مکلفې کړې چې دمرستو دهمغږۍ ، تنظیم او برابرولو له پاره خپلې هلې حلې زیاتې کړي، ترڅو دغه مرستې ښې او غوره نتیجې ولري . ددې اجنداء یوه برخه ((دهیوادونو پرسیستمونو))، دهیوادونو پرکړنلارو او پالیسوباندې دتکیه کولو په لورې دحرکت په لازم والی دټینګار کوي . دظرفیت دلوړتیا له پاره دازمایښتي پروګرامونو تطبیق دهیوادونو دژوند دچاپیریال دمدیریت له سیستم څخه په استفاده په څو محدودو هیوادونو کې پیل شوی دی. په تګلاره کې ددې کارونو دپرمختګ بهیر ارزیابي شوی دی او دکار دوام او پایښت له پاره به په رات لونکی کې پلان جوړونه وشي . نوموړې تګلاره به دژوند دچاپیریال داحتمالي خطرونو مدیریت په غیر قرضه یې لارو چارو هم په پام کې ونیسي.

**۲۱.دمالي او همکارۍ دنویو فعالیتونو پیاوړتیا.** څنګه کولی شي چې بانك په ستراتیژیك ډول دژوند دچاپیریا ل په اړه نوې مالي چارې وکاروي او هغه لارې چارې په خپلو پرمختیایي فعالیتونو کې ورځای کړي؟ په ډېرو پراخو او اړخونو کې دژوند دچاپیریال او پایښت لرونکې پرمختیا په برخه کې له منابعو څخه په ګټه اخیستنه بانك لاربښودی نقش لرلی دی، خو اوس هم دامکان شته چې داکار نوره م ښه ترسره شي.
دمثال په ډول نړیوال بانك دکاربن او په مارکیټ کې دکاربن دکمولو دپروسې CDMله پاره دهیوادونو دملاتړ پورې اړوندو معاملو کې مخکښ و او په دې روستیو کې وجهې صندوق داقلیم په برخه کې پانګه اچونه تطبیق کړې ده. دکاربن مسایلو ته اختصاص ورکړل شوې مالي مر ستې له ۱۸۰میلیونه ډالرو څخه اوس له ۲،۲ میلیاردو ډالرو څخه هم زیاتې شوې دي. هماغسې چې داقلیم په برخه کې خبرې اترې (مذاکرات) خپل حساس پړاو ته، یعني له ۲۰۱۲م کال څخه وروسته دپالیسو ټاکنې او مارکیټونو جوړولو ته رسیږي، لازمه به وي چې دهغه پروګرام له لومړی پړاو څخه زده کړل شوي درسونو ته ، چې دکاربن دکمښت او FIC دمالي مرستو له لارې تمویلیدل دي،دوام ورکړو. دپورو ورکولو دخدمتونو او دانرژۍ دکفایت اودنوی کولو وړانرژۍ په برخه کې دنړیوال بانك ګروپ مشورې کولی شي دژوند د چاپیریال دمالي پروګرام دمتحدکولو او پرمختیا له پاره ډېر مناسب او ګټورې وي. دنړیوال بانك دژوند دچاپیریال او خزاینو ریاست دپانګه والو ټولنو سره دمشارکت او ګډون له لارې دمالي مرستو په زیاتولو او داقلیم دبدلون دفعالیتونو پورې داړوندو تضمین لیکونو په صادرولو کې نړیوال بانك دکتنې وړ بریالیتوبونه لرلي دی. ((شین تضمین لیك)) داقلیم دبدلون په اړه دنړیوال بانك په فعالیتونو پورې اړوند لومړنی تضمین لیك و، چې په دې وروستیو کې نړیوالو مارکیټونو ته برابر شوی دی . په دې تګلاره کې به دنړیوال بانك بالقوه نقش دژوند دچاپیریال له پاره نوې تمویلي لاره او دپرمختیا په حال کې هیوادونو کې دژوند دچاپیریال په لحاظ دوام لرونکی پرمختیا کې له هغې څخه استفاده تر څېړنې او ژورې کتنې لاندې ونیول شي. دنړیوال بانك ګروپ او نورو تمویلوونکو ترمینځ دهمکارۍ پیاوړتیا، په ځانګړې توګه ګډې هلې ځلې او دموجودو مالي منابعو ترمینځ دتداخ لاتو راکمول به په دې تګلا ره کې ترڅېړنې او کتنې لاندې ونیول شي. په دې منظور به موږ خپلو پرمختیایي همکارانو، لکه دژوند دچاپیریال نړیواله مؤسسه ، څو اړخیزه او اودوه اړخیزه تمویلونکو سره ددې تګلارې په ترتیب او برابرولو کې له نږدې څخه کار وکړو.

**۲۲.دژوند دچاپیریال دپایښت په برخه کې دظرفیت دزیاتوالی په منظور دنړیوال بانك ګروپ داطلاعاتي امکاناتو رایوځا ی کول .** د۲۰۰۱م کال دتګلارې له تطبیق څخه ترلاسه شوې مقدماتي نتیجې ددې ځرګندوې دي چې دنړیوال بانك ګروپ کولی شي چې دمعلوماتو دشریکولو او دظرفیت دلوړولو په ساحو کې پیاوړی نقش ترسره کړي. دنړیوال بلنك ګروپ دپالیسۍ او تحلیلي کارونو زیاته اندازه برابروي، چې دامعلومات ټل په سمه توګه نه ویشل کیږي. نړیواله مالي مؤسسه دتخنیکي مرستو په برخه کې لوی پروګرام لري. دا پروګرام کولی شي دژوند د چاپیریال له لحاظ ددوام لرونکو مدیریتي فعالیتونو په برخه کې مرسته وکړي. په دې تګلاره کې دنړیوال بانك ګروپ داغیزمنتیا دپیاوړتیا لارې او روښونه(AAA) دغړیو هیوادونو دژوند دچاپیریال پر ادارو ارزیابي شوي دی او همدارنګه دغړیو هیوادونو دعامه سکټورونو ، خصوصي سکټوراو مدني ټولنې ترمینح دژوند دچاپیریال دپایښت او پیاوړتیا په منظور معلوماتي اداري اومعلوماتي خدمتونه ترڅېړنې لاندې نیول کیږي. له هغه ځایه چې دژوند چاپیریال یوه ګډه موضوع او همدارنګه یوه تولیدي برخه ده معلوماتي بنسټونه او اداري دبیلابیلو سکټورونو ترمینځ دژوند دچاپیریال د پروګرامونو دزیاتوالی او اغیزناك والی سبب ګرځي. دمثال په ټوګه دیوې غوره معلوماتي ادارې یا پایګاه رامینځته کول او دژوند دچاپیریال داغیزو او پانګه اچوونو په اړه کارکوونکو ته دلاربښودو معلوماتو وړاندې کول (لکه دډبروسکرو څخه په استفاده دبریښنا تولیدلو پرځای داوبو دبریښنا تولیدول) لنډ مهاله او اوږده مهاله ملاحظې او سیمه ییز او نړیوالې ا غیزې ښودل به ډېر مهم وي . نړیوالې مالي مؤسسې داکواتر اصول (داستواکربنه) له لارې د دوام لرونکې پانګې اچونې له پاره له مالي ادارو سره داړیکو

په ټینګولو کې پیاوړي ګامونه اخیستي دي. له دې تجربې څخه په استفاده دژوند دچاپیریال په تګلاره کې دا چاره او مسئله څېړل کېږي چې څرنګه کولی شو مالي اداري او مرکزونه دمعلوماتو او اطلاعاتو دتبادلې په دغه ډول فعالیتونو کې سره شریك او برخه وال کړو او پدې ترتیب دهغوی دژوند دچاپیریال پایښت دهغوی په فعالیتونو کې پیاوړی کړو . داکار په نړیواله کچه داطلاعاتو او معلوماتو دپیاوړتیا په منظور دنړیوال بانك له پراخه پروګرا م سره سمون او مطابقت لري.

**۲۳.په مقدماتي مسایلو پورې اړونده پانوکې دالاندې موارد شامل دي :** د۲۰۰۱م کال دتګلارې په تطبیق کې دنړیوال بانك دکړنو او فعالیتونو تحلیل او تجزیه او له هغو څخه ترلاسه شوې تجربې، دژوند د چاپیریال دپایښت لرلو له پاره دفعالیتونو دڅارنې دښه والی څرنګوالی، دبیلابیلو سکټورونو تړواك او صلاحیت لاندې ساحو کې دساتنې دتدبیرونو په پالیسۍ کې له اقل حد څخه لوړ تاکل شوي معیارونه، دهغو عواملو مطالعه چې په دې وروستیو کلونو کې یې دژوند دتنوع په کمښت کې ونډه لرلې ده او دطبیعي منابعو په مدیریت پورې اړوند نور موضوعات، لکه دځمکې ویجاړېدل،ورستیدل او نړیوالې اوبه، او ددې ستونزې دحل له پاره دنویو فعالیتونو او لارو چارو ارزیابي ته اړتیا او یا داړتیا نشتوالی، او دهوا دککړتیا دله مینځه وړلو له پاره څو اړخیزه فعالیتو نه، چې داکار پرنورو مطالبو او موضوعاتو سربیره دنړیوال بانك ګروپ دادارو مرکزونو ترمینځ دهم غږۍ دزیاتوالي لامل ګرځي.

**ث_ داخلي پروسه اوبهیر وداطلاعاتو منابع اوروش**

۲۴.دنوې تګلارې دتهیې او ترتیب کار بهګډه توګه دنړیوال بانك، نړیوالې مالي مؤسسې او دڅو اړخیزه پانګې اچونې دتضمین دټولنې(انجمن) له خوا پرمخ ځي. ۱تګلوری به دسیمه بیزو دفترونو، نړیوالې مالي مؤسسې او څواړخیزه پانګې اچونې دتضمین ټولنې او دبانك دژوند دچاپیریال دادارې په همکارۍ رهبري شي.
دبانك دژوند دچاپیریال اداره به ۲تګلوری رهبري کړي . نړیواله مالي مؤسسه ا و څواړخیزه پانګې اچونې دتضمین انجمن به دتګلارې دبرابرولو او مشورې پروسه دخصوصي سکټور په برخه کې دبآنك له غړیو سره لارښوونه او رهبري کوي.

**۲۵.کارکوونکی او دبانك دمدیریت برخه،نړیواله مالي مؤسسه او څواړخیزه پانګه اچونې دتضمین ټولنه دتګلارې په برابرولو او ترتیب کې ګډې هلې ځلې کوي .** دپروسې په اړه، دبانك دژوند دچاپیریال ریاست دتګلارې په ترتیب او برابرولو کې لارښودې نقش لري او په هغه پروسه کې نړیواله مالي مؤسسه، دڅواړخیزې پانګې اچونې دتضمین ټولنه او سیمه بیز همکاران هم فعاله ونډه لري . دقضیې په معنوي اړخونو کې ، ټول مرکزونه او اداري دهغو ساحو دپیژندنې په جریان کې دي، چې په هغوکې دهغو موضوعاتو یو شان والی او همخوانی چې کولی شي د تګلارې په تهیه او ترتیب کې ورته ډیره پراختیا ورکړل شي، شتون لري . پردې موضوع موافقیت شوی دی چې دتګلارې دبرابرولو پروسه باید له ړندې څخه له موډل او داړوند اداري له کاري حوزې سره اړیکې ولري. له دې لحاظه څرنګه چې دنړیوال بانك ګروپ دادارو کاري ساحې یو له بله توپیر لري، کیدای شي دنړیوال بانك ګروپ دهرې اداري ګډون او همکارۍ اندازه او په تګلاره کې ددرج موضوعاتو اندازه په هره برخه کې سره توپیر ولري.

**۲۶.تحلیلي کار: دتګلارې برابرول او ترتیب به په دې برخه کې دیولړ تحلیلي کارونو پربنسټ ترسره شي .** دوړاندیز شویو تحلیلي مطالعاتو لست، چې د داخلي مشورو له نتیجو څخه لاس ته راغلی ده او دمطالبو دلنډیز څیړنه او کتنه په ۲ضمیمه کې موجوده ده. په اوس وخت دبانك دژوند دچاپیر یال ریاست له تمویلو نکو منابعو څخه غوښتنه کړې ده چې دوړاندیز شوې تحلیلي کار له بهیر او همدارنګه له بهرنیو اړوند دخیلو خواوو سره له ترسره شویو مشورو څخه مالي ملاتړ وکړي.

**۲۷.دنتیجوچوکاټ:دتګلارې دترتیب او برابرولو دپروسې په بهیر کې به دنتیجو یوچوکاټ رامینځته شي چې په هغه کې دنتیجو شاخ ص په بیلابیلو پړاوونو کې په پام کې ني ول کیږي .** په لومړیو کې به دهرې لومړیتوب لرونکی ساحې له پاره چې په لومړي تګلورې کې دمشورو په بهیر کې مشخص شوې دي، دنتیجو یو چوکاټ طرحه شي، چې دهغه په اساس به تګلاره د ۱۰کلونو په موده پرمختګ وکړي. ددې هرې یوې ساحې له پاره به دژوند دچاپیریال اصلي شاخصونه معلوم کړای شي، چې کولی شو هغه دیوې پروژې په سطحه وسنجوو او جمع بندي یې کړو، ترڅو په دې ترتیب په ساحو کې دکار پرمختګ په اسانۍ سره دسنجش او ارزیابۍ وړوي . دغه شاخصونه به دبانك دنتیجو له پراخه لست سره په مطابقت اوسمون کې احتمالاً له دې لاندې مواردو څخه ترکیب شوي وي:

- شاخصونه دسکټور په سطحه چې په هغه سکټور کې دژوند دچاپیریال له مخې دیو دوام لرونکی فعالیت په اړه دمثبتو بدلونونو څرګندوی وی. دتګلارې مؤظف او ګومارل شوی ټیم به له سیمه بیزو ټیمونو او SDNله ټیمو نو سره دکلیدي سکټورونو لکه : انرژي، ښارجوړولو،کرنې، ځنګل دارۍ او نورو

دمشخصو شاخصونو دپېژندنې له پاره کار وکړي . داشاخصونه به یو یا ډېر ټاکل شوي هدفونه دتګلارې په موده کې، لکه دخاورې دساتنې له روښونو څخه داستفادې پیاوړتیا ، دمثال په توګه ، په کرنه کې دخاورې دزیانونو کمښت او یا له مینځه وړل ، څرګنده کړي.

- دڅوند دچاپېریال داصلي ساحو له پاره لکه دککړتیا سره مبارزه او دڅوند تنوع شاخصونه په دې دې برخه کې دنړیوال بانک ګروپ دمرستو دنوي کولو له پاره مشخص او په ښه کړای شي.
- دڅوند دچاپېریال دمدیریت او ادارې په برخه کې ، بـه شاخصونه دادا رې ظرفیت دلوړتیا په اړه مشخص کړای شي، چې دا کار کولی شي دهېوادونو سیستمونو دپرمختیا او ښه والي له پاره په هدفونو کې شامل کړای شي، البته په هغه صورت کې چې ګټور ښکاره شي.
- سربېره پردې،دمنځنیو نتیجو شاخصونه دکار دپرمختګ دارزیابۍ له پاره د داخلي میکانیزمونو له نقطه نظره داط لاعاتو په مدیریت پورې اړوند فعا لیتونه به ، چې دنړیوال بانک ګروپ سره ستراتیژیکو هدفونو ته دهغوی په رسولو کې مرسته کوي، هم موجودوي . ددغسې شاخصونو یو مثال کیدای شي دداسې سیستم رامینځته کول وي چې هغه دېږوژې دکارو څارنې او بشپړولو له پاره دڅوند دچاپېریال دمسایلو په اړوند دپروژو فعالیتونه ښه تعقیب کړي.

۲۸**.مشورې .له بیلابیو اړوندو او دخیلو خواوو سره به شفافې او هر اړخیزې مشورې وشي ، ترڅو دټولو رضایت ترلاسه او دنوې تګلارې له کیفیت څخه ډاډ حاصل شي .** دډاډ له پاره دسیمه ییزو بیلابیلو سکټورونو اړوندو خواوو داستازیو دنظریاتو په انعکاس سره یو جامع او اغیزناک پلان دې لاندې عناصرو ته په پاملرنه ترکار لاندې دی:

- دمشورې پروسه ترکیب شوې ده : دانټرنیټ له لارې غونډې، په څوڅیزو پایګاوې ، مخامخ ناستې او غونډې او ویډیو یي کنفرانسونه او دنظریاتو راټولونه ، ترڅ و داړوندخواوو دنظریاتو لویه ټولګه ترلاسه شي.
- دمشورتي پروسو په جریان کې، سیمه ییزدفترونه، نړیواله مالي مؤسسه او دڅو اړخیزه پانګه اچونې دتضمین ټولنه،کلیدي همکاران، داړوندو خواوو کارپوهان، دمشورتي غونډو دپلان جوړولو ، زمان بندي او مه ال ویش او همدارنګه رپوټ ورک ول پر غاړه لري . دبانک دڅوند دچاپېریال ریاست دټولې پروسې لارښوونه په غاړه لري او انټرنیټي پایګاوې طراحي او ا داره کوي او همدارنګه به سیمه ییز دفترونو ته لوژستیکي مرستې هم برابرې کړي . اړونده دخیلې خواوې، چې باید دمشورې په پروسه او بهیر کې واقع شي،په پرمختللي‌واو مخ پر ودې هیوادونو کې حکومتونه، مدني ټولنه، نادولتي مؤسسې، کلیوال وګړي، دعلمي ټولنو غړي، کار پوهان، خصوصي سکټور، دملګرو ملتونو مؤسسې ، پرمختیایي او ځوانانو ادارې، نړیوالې مالي مؤسسې او دڅو اړخیزه پانګه اچونې دتضمین ټولنې څخه عبارت دي، له خصوصي سکټور سر ه دمشورو پروسه او بهیر پرمخ بوځي . تحلیلي کارونه هم په مشورتي طریقه ترسره کیږي او په انټرنیټي پایګاه کې به ورځای کړل شي.
- دمشورې پروسه به دمطالبو په دې لنډیز باندې په بحث سره پیل شي. هڅه به وشي چې دمشورې پروسه دامکان ترانداز ې په اغیزناکه ، کم لګښته او ((شنه)) طریقه او لاره ترسره شي . منظم ، پخپل وخت، ګزارش به یو باورې اواغیزناک بهیر او پروسې ته په لاس رسې کې مرکزی نقش ولري. روان فعالیتونه به دمالي مرستو دراټولولو په منظور ټاکونکی او دمشورو نهایي ټولګه وي.
- دنړیوال بانک ګروپ دننه دداخلي مشورو پروسه همدا اوس روانه ده او ترلاسه شوي نظریات په یو داخلي مشورتي سایټ کې خپریږي، چې داسایټ دکار کوونکو له پاره دداسې پایګاه نقش ترسره کوي چې په کولی شي مشوره ورکوونکي په منظمه اوګټوره توګه ونډه واخلي او نوموړی سایټ داخلي مشورو ته له مشورتي فعالیتونو او له بلنک څخه بهر نظریاتو ته اړیکه ورکوي.

۲۹**.مشورتي کمیټې :** دنړیوال بانک ګروپ له کارکووک و څخه یوه تشکیل شوې کمیټه او یو ه بهرنۍ کمیټه دنړیوال بانک ګروپ له کارکوونکو څخه بهر کمیټه به دڅارنې او دنوې تګلارې دچمتو کولو په هکله دلارښوونو د وړاندې کولو له پاره رامینځته شي. نوموړې کمیټه به دتګلارې دترتیب او برابرولو په پروسه کې دلارښوونې او همدارنګه داساسي کارونو په ګډون دمنځنیو نتیجو په اړه مهم نقش او ونډه ترسره کړي.

۳۰**.دمعلوماتو منابع. دمطالبو دلنډیز به برابرولو کې په بشپړشوي او روان کارونه په پام کې ونیول شي، چې دا لاندې مطالب پکې شامليږي:** (i) دنړیوال بانک د ۲۰۰۱م کال دڅوند دچاپېریال تګلاره (ii) دارزیابۍ دخپل ګروپ پواسطه دڅوند دچاپېریال پاینت په برخه کې د نړیوال ګروپ دمرستو ارزیابي (iii) دارزیابۍ دخپلواک ګروپ پواسطه دساتندویه تدبیرونو ارزیابي (دمطالبو لنډیز ترکار

لاندې دی)(vi) دنړیوال بانك ګروپ دپرمختیا او اقلیم دبدلون له پاره ستراتیژیك کاري چوکاټ دنړیوال بانك دپرمختیا رپوټونه، له هغې جملې څخه داقتصادي جغرافیايي حالت دنوي کولو په اړه د ۲۰۰۹م کال رپوټ (ګزارش ) او د۲۰۱۰م کال رپوټ داقلیم دبدلون په اړه (iv)دنړیوالې مالي مؤسسې د۱۸میاشتو او دریو کلونو دکړنو دمعیارونو څیړنه او بررسي . (iiv) ترکار لاندې نوري سکټوري تګلارې، په ځانګړې توګه دانرژی ، ښار جوړولو او اوبو سکټور (iiiv)د ځنګلداری په اړه داخلي او بهرني رپوټونه (xi) د ۲۰۰۴م کال دآبي منابعو دسکټور دتګلارې نوی نسخه (x)دنړیوال بانك ګروپ دزیربناوو پایښت لرونکی عملیاتي پلان (ix)دمالي پرمختیا نوی سند چې د CFPپواسطه چمتو شوي دی (iix)د ۲۰۰۸م کال دنړویالی څارني رپوټ او (iiix)پرمختیایي پالیسی OPS/EVN

**ج_ پروسه اوزماني موده**

دژوند دچاپیریال په اړه مشورتي پروسه په پام کې ده، چې د ۲۰۰۹م کال دسمیسټر دمیاشتې ترنیمایي پورې پیل شي. دهغې لومړۍ بشپړه پروسه د ۲۰۱۰م کال په پسرلي کې دتائید له پاره دنړیوال بانك مدیره هئیت ته له وړاندې کولو څخه دمخه دنظریاتو دترلاسه کولو په منظور د ۲۰۱۰م کال په وروستیو کې چمتو کیږي.

**۳۱.کارکوونکی**

نړیوال بانك (سیمه ییز دفترونه، سکټوري دفترونه !WBدحقوقو ریاست او دپرمختیا دڅیړنې ډله ) نړیواله مالي مؤسسه او دڅواړخیزه پانګه اچونې دتضمین ټولنه دتګلارې دبرابرولو په اړوند دمسایلو له پاره دارېکو دمراجعو دټاکنې په برا و کې دی. سربیره پردې به ټیمونه تشکیل شي، ترڅو په ځانګړو موضوعاتو باندې، په هغه صورت کې چې مناسب وي، کار وکړي . دمقدماتي چارو له پاره به زیات شمیر سندونه دنورو ریاستونو پواسط دژوند دچاپیریال له ریاست سره په نږدې همکارۍ برابر کړل شي. دمشورو بهپوسه به دسیمه ییزو دفترونو له خ وا رهبري شي او نړیواله مالي مؤسسه او دڅو اړخیزه پانګې اچونې دتضم ین ټولنه به دخصوصي سکټور له غړي و سره دمشورو پروسه او بهیر رهبري لګوي.

**لومړۍ ضمیمه: دنړیوال بانك دتاسیساتو سمسورول**

په وروستیو کلونو کې په ۲۰۰۴م کال دژوند دچاپیریال دساتنې په اړه دنړیوال بانك دلومړني رپوټ په خپریدو پسې دنړیوال بانك دتاسیساتودسمسورتیا په کار لګې دکتني وړ پرمخګونه شوي دي . دتاسیساتو د سمسورولو یو ستر هدف عبارت دي له دنړیوال بانك د داسې مرکزونو لرل و څخه چې په ۲۰۰۶م کال له کاربن څخه یو خلاص وضعیت دبادي برینبنا دتولید ددستګاوو دخریدارۍ له لارې او دګازونو دتولید کمښت له ۲۰۰۷م کال څخه راپه دې خوا دګلخانه یي ګازونو په ارزیابۍ او سمسورولو پروژرې تطبیق دهیواد په سطحه دنړېوال بانك مرکزي دفترونو کې پراختیا او پرمختیا موندلې ده . له دې سره سره دنړیوال بانك په تاسیساتو کې دګلخانه یي ګازونو دکمښت دپروسو په وړاندې ننګونې او چیلنجونه اوس هم شته دي. دژوند دچاپیریال په تګلاره کې دګاز دکمولو دعملیاتو دبرمخبیولو په منظور، له هغې جملې څخه به دبانك په ساحوي دفترونو په سیستماتیکه توګه دتاسیساتو دسمسورولو دپروګرام وړاندیز وشي.

**دویمه ضمیمه:دمقدماتي مسایلو په اړه دوړاندیز شویو مطالعاتو لست**

**۱.دژوند دچاپیریا ل دپروګرامونو ترمنځ دنوي تعادل رامینځته کول : داقلیم بدلون او دژوند د چاپیریال سترې ننګونې او چیلنجونه.**

**۲.د ۲۰۰۱ م کال دژوند دچاپیریال دتګلارې په تطبیق کې دنړیوال بانک ګروپ دکړنو ارزیابي**

- دکاري حوزې څیړنه او بررسي
- دنتیجو چوکاټ
- دتشکیلاتي جوړښت ، پرسونل، م هارتونه،انګیزو او دبانک دژوند دچاپیریال داداري په وړاندې دخنډونو ارزیابي.
- دتشکیلاتي ، مالي او اطلاعاتي سیستمونو ارزیابي.
- دSDNدیوځای کولو څخه ترلاسه شوې نتیجې.
- دداخلي او خارجي اطلاعاتو په زیاتوالي او تبادله کې دنړیوال بانک نقش

**۳.یوموټی کول**

- دیو موټی کولو څخه دترلاسه شویو تجربو اغیزمنتیا
- دژوند دچاپیریال دپروګوامونو دیو موټي کولو څخه دترلاسه شویو نتیجو دڅارنې دښه والي دڅرنګوالی ټاکنه، دژوند په چاپیریال دساتني او سمون او داقتصاد پرښه والي باندې یې نهایي نتیجې.
- دژوند په چاپیریال پورې اړوند پروګرامونو دیو موټي کولو په پیاوړتیا کې دمالي سکټور تحلیل، تجزیه اونقش.

**۴.عملیاتي پالیسی ، ساتندوې تدبیرونه او دهیوادونو سیستمونه**

- دنړیوال بانک دساتندویه تدبیرونو داغیزمنتیا ارزیابي.
- دهیوادونو دسیستمونو دتطبیق په لوري دپرمختیا ارزیابي.

**۵.دهوا دککړتیا له مینځه وړل**

- دهوا دککړتیا په له منځه وړلو کې دنړیوال بانک دمرستو اغیزې او حالت
- دپرمختیا په حال کې هیوادونو کې دهواد ککړتیا دله م ینځه وړلو په چار کې څو عضوي فعالیت

**۶.دژوند تنوع اودطبیعي منابعو ساتنه**

- دژوند دتنوع له پاره دنړیوال بانک ګروپ دمرستو څیړنه او بررسي
- دایکوسیستم په اساس له چاپیریال سره سمون او دایکوسیستم دخدمتونو تمویل ، وضعیت او دهغه پوټانسیل.

**۷.دژوند دچاپیریال حکومتدارۍ اواداری**

- حقوقو ته لاس رسي، دداخلي او بهرنیو سکټورونو ترمنځ دهڅو او هلو ځلو شریکول او دژوند دچاپیریال په اړه په تصمیم نیولو کې دخلکو ګډون او ونډه اخیستنې
- نتیجې او تجربې دژوند دچاپیریال له ستراتیژیکي ارزیابۍ سره یو ځای او دهیواد دژوند دچاپیریال تحلیل دژوند دچاپیریال دحکومتدارۍ او ادارو دارزیابۍ دیوې وسیلې په توګه.
- دادارو دظرفیت دلوړوله پاره دپوروړکولو او تخنیکي مرستو تحلیل او تجزیه.
- دژوند دچاپیریال دشفافیت او اطلاعاتي پروژې.
-

**دریمه ضمیمه : دتګلارې مؤقتي طرحه**

۱.شالید (پس منظر) او معرفي

۲.دنوي تګلارې له پاره داخلي او بهرنۍ لارې چارې

۳.دتګلارې لارښودي اصول او هدفونه

۴.دژوند دچاپیریال له مخکینۍ تګلارې څخه ترلاسه شوې تجربې او دژوند دچاپیریال دپایښت دپالیسي ت طبیق او نړیوالی مالي مؤسسي دکړنو او فعالیتونو معیارونه.

۵.دغړیو دلومړیتوبونو ارزیابي.
۶.ګډمسایل
۷.دنړیوال بانك ګروپ دتګلارې تطبیق
۸.دنتیجو چوکاټ
۹.ضمیمې